آبادي
هفته نامه آبادی
اوونیزه
ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼه: ۱۰ | مسلسل نمبر: ۵۳

شنبه، د ذوالحجې ۸مه، ۱۴۴۵ هـ. ق کال




## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند غور ولایت ته سفر وکړ



۱ صفحه

## د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه ترسره شوه



۲ مه صفحه

## په ملي اقتصاد کې د صنعت سکټور اهمیت ته کتنه



۵ مه صفحه



## سرلیکنه

په افغانستان کې وروستیو سېلابونو د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې هېوادوالو ته درانه ځاني او مالي تاوانونه واړول. ډېری کورنی له خپلو کورونو بېځایه شوې، کرنیزې ځمکې يې تر اوبو لاندې شوې، ښوونځي، کلینیکونه، کانالونه، کاریزونه او ځاګاني، پلونه، پلچکونه او سړکونه ویجاړ شول او هېوادوال ته د تګ راتګ پرمهال له ستونزو سره مخ شول. دا لومړی ځل نه دی چې د هېواد په مختلفو ولایتونو کې لکه په بغلان، غور، بدخشان، تخار، فاریاب، ارزګان او نورو کې مو هېوادوال د سېلابونو له امله له داسې یو ناوړین سره مخ کېږي، بلکې ددې ترڅنګ په تېرو کلونو کې هم ددې ډول طبیعي پېښو له امله هېوادوالو ته درانه مالي او ځاني زیانونه اوښتي دي. دا چې سېلابونه او دې ته ورته طبیعي پېښې ولې رامنځته کېږي، هغه سوال دی، چې باید ځواب شي. ددې تر ټولو ستر لامل په نړیواله کچه د اقلیم بدلون دی. افغانستان په دې اقلیمي بدلون کې تر یوې سلنې کمه ونډه لري، خو تاوانونه يې تر نورو ډېر ورته رسیږي. دا چې د اقلیمي بدلون له امله افغانستان ډېر متاثره دی، خو سره له دې هم نړیوال چې د اقلیم بدلون اصلي عاملین دي، ددې پر ځای چې د طبیعي پېښو د رامنځته کېدو پرمهال له زیانمنو وګړو سره مرسته وکړي، برعکس پر افغانستان يې اقتصادي او سیاسي بندیزونه هم لګولي دي.

ددې ټولو ستونزو او ناخوالو سره سره اسلامي امارت د اقلیمي بدلون د اغېزو د راکمولو په برخه کې خپلې هڅې کړې دي. د ننګرهار په پوهنتون کې د اقلیمي بدلون په تړاو د درې ورځنی کنفرانس جوړېدل، د ځنګلونو د پرې کولو مخنیوی، د واورو، بارانونو او سېلابونو د اوبو مهارولو په موخه د سترو، متوسطو او کوچنیو بندونو جوړول هغه اقدامات دي چې اسلامي امارت د اقلیمي بدلون د اغېزو کمولو په برخه کې ترسره کړي دي.

مګر سره له دې هلو ځلو دادی بیا هم د هېواد په ډېرو ولایتونو، چې له هغه جملې د بغلان، غور، بدخشان، فاریاب، تخار، کندز، ارزګان او د هېواد په ډېری نورو ولایتونو کې د سېلابونو د راوتلو له امله زموږ هېوادوالو ته درانه ځاني او مالي زیانونه واوښتل. اسلامي امارت د شته امکاناتو په کار اچولو سره پر خپل وخت ټولو سیمو ته خپل کاري ټیمونه ولېږل تر څو له خپلو هېوادوالو سره د لومړنیو خوراکي توکو، البسې، درملو او د لویو لارو د خلاصولو سربېره په نورو برخو کې د زیانمنو هېوادوالو لاسنیوی وکړي. په غور ولایت کې چې د سېلابونو له امله کوم وګړي زیانمن شوي، اسلامي امارت يې پر وخت مرستې ته ور رسېدلی دی. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د غور ولسونو سره د غمرازۍ او له دوی سره مرستې په موخه د روان لمریز کال د غبرګولي میاشتې په ۲۴مه نېټه یاد ولایت ته سفر وکړ، د زیانمن شوو هېوادوالو حال يې له نږدې واخیست، له دوی سره يې د نقدي مرستې سربېره ژمنه وکړه، چې اسلامي امارت به مو د شته امکاناتو په درلودو سره تر هغه وخته پورې لاسنیوی کوي تر څو مو ژوند عادي حالت ته را وګرځي. دا هغه څه دي چې یو مسوول حکومت يې ترسره کوي او اسلامي امارت دا کار له ځنډ پرته او پر وخت ترسره کړ. دا د افغان ولس له پاره بسنه کوي چې داسې یو حکومت او داسې ژمن مسوولین يې په برخه شوي دي چې په هر حالت کې د دوی په خوا کې ولاړ دي.

# د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند غور ولايت ته سفر وکړ



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳لمريز کال د غبرګولي مياشـــتې په ۲۴مه نېټه په غور ولايت کې د وروســـتيو سېلابونو له امله د زيانمنو شـــويو هېوادوالو سره د نورو مرستو ترسره کېدو په موخه دغه ولايت ته سفر وکړ.

محـــترم ملا عبدالغني برادر اخوند غور ته د خپل ســـفر پر مهال د دغه ولايت له مسوولينو سره وکتل او هغوی ته يې د وروستيو سېلابونو له امله د رسېدلو زيانونو له امله د لازمې همکارۍ ډاډ ورکړ.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د دغه ولايت مسوولينو ته د کارونو د ښه ترسراوي په اړه لازمې سپارښتنې وکړې او له دوی يې وغوښتل چې په ډېر صداقت او رښتينولۍ سره د خپلو زيانمنو هېوادوالو خدمت وکړي.

پـــه پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، که د هېواد په هر ګوټ کې هېوادوال په مشـــکل کې وي، د اســـلامي امارت مســـوولين مکلف دي، چې د دوی حال واخلي او ستونزو ته يې پر وخت رسېدنه وکړي.

# محترم ملا عبدالغنی برادر آخند با مردم آسـیب دیده از اثر سیلاب های اخیر در ولایت غور دیدار نمود



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء بتاریخ ۲۵ام جوزا ســال ۱۴۰۳ خورشیدی در سفرش به ولایت غور با مردم اسیب دیده از اثر سیلاب های اخیر و مسؤلین این ولایــت دیدار نموده، به آنها تسـلیت گفت. محترم حاجی ملا صاحب در جریان سخنرانی خود گفت که سیلاب های اخیر در کشور خســارات جانی و مالی زیادی را به هموطنان در ولایات مختلف وارد کرده است. بسیاری از خانواده ها از خانه و کاشانه خود آوارهشدند، زمین های زراعتی زیر آب شد، پل ها، پلچک هــا، و سرک هــا ویران شــده و بــه همین علــت هموطنان به مشکلات گونا گون مواجه شدند اما امارت اسلامی به موقع به مردم سیلاب زده رسیده گی نمود.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند افزود ما نســبت به این فاجعه ابراز تآسف می نمایم. امارت اسلامی در این غم بزرگ با شما شهروندان عزیز خود را شریک میداند.

محترم حاجی ملا صاحب، پیش از این ده ها تن مواد خوراکی، دواء و البسه را به این ولایت فرستاده بود و علاوه بر آن اکنــون ده هــا میلیــون افغانی پول نقد نیز به شــهروندان اسیب دیده این ولایت کمک نمود. معاون اقتصادی ریاست الــوزراء به مردم ولایت غور گفت: «به تمام مســؤلین امارتی هدایت داده ایم که کمک ها را جمع اوری و به طور شــفاف به هموطنان مســتحق و اســیب پذیر توزیع نمایند و همچنان کمیته فوق العاده نیز گماشته ایم که شبانه روز کار می کند.»

معاون اقتصادی ریاســت الوزراء طی ســخنان به این جلســه گفت، از تمامی شــهروندان و هموطنان که در حد توان خود بــه مردم ســیلاب زده کمک کرده اند ســپاس و قدردانی می نمایم و از خداوند متعال برای شــان اجر جزیل می خواهیم.

در اخیر محترم حاجــی ملا صاحب به مردم غور اطمینان داد که امارت اسلامی تا حل مشکلات موجود و بازگشت زنده گی به روال عادی در کنار شما ایستاده است.

# د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شوه



د اقتصادي کمېسيون په نوبتي غونډه کې چې په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، د سرو زرو د موقت صدور پر کړنلارې، نويو متقاضيانو ته د نوري فايبر د ملي جوازونو پر ورکړې، په دولتي ادارو کې د اوسنيو څراغونو پر ځای د ايل اي ډي څراغونو پر استفادې او يوشمېر نورو اقتصادي موضوعاتو بحث وشو. په غونډه کې چې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شوې وه، تر هراړخيز بحث وروسته د سرور زرو د موقت صدور کړنلاره تاييد شوه. د دې طرحې له مخې به د ټاکل شوو اصولو په رڼا کې د سرو زرو موقت صدور ترسره کېږي، چې له مخې به يې تر ډېره حده د قاچاق مخنيوی وشي.

د اقتصادي کمېسيون په دغه غونډه کې نويو متقاضيانو ته د نوري فايبر د ملي جوازونو د ورکړې پر موضوع هم بحث وشو. تر هراړخيز بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت اړوند د اترا اداره دې نويو متقاضيانو ته د نوري



فایبر ملي جوازونه د ملي ګټو په پام کې نیولو سره د نړیوالې داوطلبۍ له لارې ورکړي. په دې سره به د هېواد ټولو سیمو ته د نوري فایبر شبکه وغځېږي او هېوادوالو ته به په ارزانه بیه او ښه کیفیت انټرنیټي خدمات وړاندې شي.

په دولتي ادارو کې د اوسنیو څراغونو پر ځای د ایل ای ډي څراغونو پر استفادې هم بحث وشو. د اقتصادي کمېسیون د هدایت پر اساس ټولې دولتي اداري مکلفې وبلل شوې، چې د شته څراغونو د استهلاک په صورت کې دې له ایل ای ډي څراغونو څخه استفاده وکړي او د برېښنا د سپما لپاره دې په خپلو ادارو کې په دې اړه عامه پوهاوی زیات کړي، چې په پایله کې به یې په کلني ډول میلیونونه افغانۍ سپما شي. په ټوله کې د اوبو او انرژۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو د برېښنا د سپما په برخه کې اقتصادي تحلیلونه ترسره کړي، حل لارې دې ولټوي او د تطبیق په موخه یې دې د بودیجې ترلاسه کولو په موخه مالیې وزارت ته ولېږي.

# در جلسه کمیسیون اقتصادی، در مورد ساخت بنـد دوم سروبـی و تولید ۳۰۰ میـگاوات برق گازی در جوزجان بحث شد



در جلسه نوبتی کمیسیون اقتصادی که در قصر مرمرین برگزار شده بود، در این جلسه اعمار بند دوم سروبی ولایت کابل، تولید ۳۰۰ میگاوات برق گازی در ولایت جوزجان، مسوده تهیه شده از سوی وزارت معادن و پترولیم در مورد مواد ساختمانی و تعدادی دیگر از موضوعات اقتصادی مورد بحث قرار گرفت. در این نشست که به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء تدویر گردیده بود، پس از بحث و گفتگوی همه جانبه، به وزارت آب و انرژی وظیفه سپرده شد تا با درنظر داشت نظریات کمیسیون اقتصادی در مورد احداث بند دوم سروبی با شرکت های مختلف بحث تخنیکی نموده و گزارش آن را به کمیسیون اقتصادی ارائه نماید. همچنان به وزارت مذکور هدایت داده شد تا به شمول وزارت معادن و پترولیم بحث های تخنیکی در مورد تولید ۳۰۰ میگاوات برق گازی در ولایت جوزجان با شرکت ارائه کننده طرح انجام و گزارش خویش را به کمیسیون اقتصادی ارائه نماید.

در جلسه کمیسیون اقتصادی در مورد مسوده مواد ساختمانی(ریگ، جغل، سنگ تهداب) که از سوی وزارت معادن و پترولیم ارائه شده بود، بحث و تبادل نظر صورت گرفت. پس از ارزیابی همه جانبه مسوده یاد شده، به کمیته تعیین شده در موافقتنامه مواد ساختمانی به رهبری وزارت معادن و پترولیم وظیفه سپرده شد که با توجه به تعدیلات وارده از سوی کمیسیون اقتصادی، به منظور غنی سازی هرچه بیشتر مسوده جلسه مشترکی را با وزارتخانه ها و ادارات ذیربط تشکیل و مسوده نهایی را برای منظوری به دفتر عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله ارسال نماید.

## جلسـۀ نوبتی کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی برگزار شد

جلسۀ نوبتی کمیته تخنیکی کمیسیون اقتصادی که بتاریخ ۲۱ جوزا سال جاری خورشیدی در قصر مرمرین تدیر یافته بود، طبق آجندا در مورد پروسس مس در ولایت سرپل، انکشاف سب استیشن در ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر، تولید برق خورشیدی ۴۰ میگاوات در ولایت ننگرهار و ۱۰ میگاوات در ولایت پکتیکا و شماری دیگر از موضوعات بحث صورت گرفت.

در جلسه پس از بحث همه جانبه به وزارت معادن و پترولیم وظیفه سپرده شد تا معلومات خود را در مورد معدن مس بلخاب سرپل با کمیسیون اقتصادی شریک سازند. همچنان پس از بحث مفصل در مورد انکشاف سب استیشن ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر و تولید برق خورشیدی ۴۰ میگاوات در ولایت ننگرهار و ۱۰ میگاوات در ولایت پکتیکا به وزارت های آب و انرژی و معادن و پترولیم و شرکت برشنا افغانستان مربوط هیئت رهبری شرکت های امارتی وظیفه سپرده شد تا گزارش تحلیلی خویش را در مورد پروژه های یاد شده به کمیسیون اقتصادی ارائه نماید.



# جلسهٔ نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی برگزار شد



در جلسهٔ نوبتی کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی که بتاریخ ۲۲ جوزا سال روان خورشیدی در قصر مرمرین برگزار شده بود، طبق اجندا شماری از طرح های سرمایه گذاری ارائه شده از سوی سکتور خصوصی مورد بحث و بررسی قرار گرفت.

طرح های برق رسانی به قریه موری چاق ولسوالی بالامرغاب ولایت بادغیس، اعمار مارکیت تجارتی و راه زیرزمینی در شهر جلال آباد و کمپلیکس تفریحی بام هرات در این ولایت به جلسه ارائه شد.

پس از بحث و تبادل نظر همه جانبه طرح احداث مارکیت تجارتی و راه زیرزمینی در زمین شاروالی در چوک بزازی شهر جلال آباد مورد تایید قرار گرفت. در رابطه به طرح های برق رسانی به قریه موری چاق ولسوالی بالامرغاب ولایت بادغیس و ساخت کمپلیکس تفریحی بام هرات در این ولایت به کمیته های تعیین شده وظیفه سپرده شد تا با شرکت های ارائه دهنده طرح ها، جلسات را به منظور ارزیابی ابعاد مالی، اقتصادی و تخنیکی برگزار و گزارش خویش را به کمیته یاد شده ارائه نماید.

# د هرات په زنده‌جان ولسوالۍ کې زلزله ځپلو هېوادوالو ته یو بل ښار گوټی جوړ او گټې اخیستنې ته وسپارل شو



د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رئیس محترم مفتي عبدالله عزام د روان کال د غبرگولي میاشتې په ۲۴مه نېټه هرات ولایت ته د خپل سفر پرمهال په زنده جان ولسوالۍ کې تېر کال زلزلې ځپلو هېوادوالو ته د ۱۰۰ کورونو لرونکي یوه بل ښار گوټي د سپارلو په مراسمو کې گډون او وینا وکړه.

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رئیس محترم مفتي عبدالله عزام په همدې مناسبت جوړې شوې غونډې ته چې د هرات ولایت یو شمېر مسوولینو، خصوصي سکتور استازو او سیمې اوسیدونکو گډون کړی وو، د خپلې وینا پرمهال وویل، د اقلیمي بدلونونو له امله د هېواد بېلا بېلې سیمې د زلزلو او سیلابونو له امله زیانمنې شوې او اوسیدونکو ته یې درانه ځاني او مالي زیانونه اوښتي دي. د مفتي عبدالله عزام په وینا چې ددغو طبیعي پېښو له امله ځینې زېربناوې هم زیانمنې شوې دي.

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رئیس د هرات د مرکز په گډون په ځینو ولسوالیو کې د رامنځته شوې زلزلې له امله اوښتي زیانونه بې ساري وبلل او ویې ویل چې ددې زلزلې له امله زرگونو هېوادوالو ته ځاني او مالي زیانونه واوښتل او ډېری خلک یې د غم په ټغر کېنول.

د مفتي عبدالله عزام په وینا، که څه هم دا یوه ستره غمیزه وه خو د افغانستان اسلامي امارت مسوولینو زلزله ځپلو سیمو ته پر وخت ځانونه ورسول او له شته امکاناتو څخه په استفادې یې د زلزله ځپلو هېوادوالو لاسنیوی وکړ.

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رئیس د خپلو خبرو پرمهال وویل چې لا هم د تېر کال زلزلې له امله د هرات ځینې اوسیدونکي سرپناه نه لري او مرستو ته اړ دي، نو اړتیا ده چې لاسنیوی یې وشي، د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت او نورې اړونده اداري په دې برخه کې خپلو همکاریو ته دوام ورکوي.

محترم مفتي عبدالله عزام د هرات زلزله ځپلو کورنیو ته د ۱۰۰ کورونو په جوړېدو خوښي وښوده او زیاته یې کړه: «ډېر زیات د خوشحالۍ احساس کوم چې نن ورځ په هرات ولایت کې له زلزلې څخه د زیانمن شویو هېوادوالو لپاره د سرپناه سل کورونه توزیع کېږي، دا سل کورونه به په واقعیت کې په اوسط توگه د سلو کورنیو سلگونو کسانو ته د سرپناه او نسبتاً ارام ژوند زمینه مساعده کړي.»


د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رئیس له ټولو هغو هېوادوالو څخه مننه وکړه، چې د هرات د زلزله ځپلو له پاره یې د کورونو په جوړېدو کې مرسته کړې ده او ډاډ یې ورکړ چې د افغانستان اسلامي امارت د طبیعي پېښو له امله د زیانمنو هېوادوالو په څنگ کې ولاړ دی او پر وخت به یې ستونزو ته رسیدگي کوي.

محترم مفتي عبدالله عزام د خپلو خبرو په یوه برخه کې د هېواد ملي پراختیا ستراتیژۍ ته په اشارې سره وویل چې ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د خپل مسوولیت له مخې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د هېواد د ملي پراختیا په ستراتیژۍ کار کوي او په نږدې راتلونکي کې به یې د لومړنۍ مسودې چارې بشپړې شي. په دې ستراتیژۍ کې د هېواد د عیني اړتیاوو او امکاناتو په چوکاټ کې به د ملي لومړیتوبونو بېلا بېل مهم پروگرامونه په گوته شي. د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د دفتر عمومي رئیس په وینا، له دې سره به په هېواد کې د اقتصادي ودې پروسه نوره هم منظمه، د پانگونې او بشري قوې د گومارنې له پاره به مناسب فرصتونه رامنځته او په ټوله کې به په هېواد کې د اقتصادي ودې بهیر مدیریت او گړندی شي.

هفته نامه آبادی
آبادي اوونیزه
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
ABAADI ONLINE WEEKLY

# په ملي اقتصاد کې د صنعت سکټور اهميت ته کتنه

ليکوال: فضل ولي شيراني




## سريزه

کله چې د توماس اډيسون له لوري برېښنا اختراع شوه، نو له دې سره سم انسانانو ته دا فکر پيدا شو، چې څنګه کولای شي په خپل ژوندانه کې بدلون راولي. دغه راز يې دې ته هم پام شو، چې د ځمکې پرمخ چې کوم امکانات الله پاک انسان ته ورکړي دي، داسې استفاده ترې وکړي چې ژوند يې هوسا او ارام پرمخ ولاړ شي. نو همداغه وه، چې انسانانو د خپل ژوند بڼه بدله کړه او هغه کاروونه چې پخوا به د بشري قوې يا هم د څارويو په وسيله په ورځو، اوونيو او ان مياشتو کې ترسره کېدل، نن سبا هغه د ماشين له لارې ډېر په اسانۍ او کم وخت کې ترسره کېږي. الله تعالی چې کوم څه د ځمکې پرمخ يا هم تر ځمکه لاندې پيدا کړي دي، دا ټول د دې له پاره دي چې انسان ګټه ترې پورته او د خپل ژوند چارې پرمخ بوځي. ددې وسيلو توليد ته صنعت وايي.
افغانستان د صنعت په برخه کې اوږده مخينه لري. زموږ هېواد د فرهنګ او مدنيتونو زانګو وه، په ځينو سيمو لکه کاپيسا، بګرام، هډه، باميان، ای خانم، ميرزکه او نورو کې د پلټنو او کيندنو په لړ کې داسې لاسي صنايع موندل شوي چې د لوړ هنري ذوق ښکارندويي کوي. افغانستان داسې نه دی چې صنعت يې نه درلود، خو خبره داده چې د صنعت د پرمختګ له پاره کار نه دی شوی. په تېرو کلونو کې د افغانستان د اقتصادي پراختيا په برخه کې د خدمتونو برخي او څه اندازه کرنې ونډه درلوده، خو په دې پراختيا او وده کې صنعت په نشت حساب و. دې برخې ته هېڅکله هم هغه ډول پاملرنه نه ده شوې لکه څنګه چې په کار وه. په افغانستان کې په تېر کې ځينې داسې حکومتونه هم و، چې د صنعت د ودې له پاره يې نه يوازې دا چې فرصتونه نه دي برابر کړي، بلکې برعکس د صنعت او صنعتکارانو د کار مخه يې هم نيولې ده او همدا لامل و، چې د افغانستان صنايع هماغسې سنتي او دوديز پاتې شي. خو اوس چې په افغانستان کې د اسلامي امارت تر چتر لاندې يو مرکزي او پياوړی حکومت رامنځته شوی دی، د صنعت برخې ته يې پاملرنه کړې ده. په دې ليکنه کې موږ غواړو د صنعت او صنعتي کېدو اړتيا، د صنعت اقتصادي اهميت او د اسلامي امارت د هڅو په اړه خبرې وکړو.

## صنعت او د صنعتي کېدو اړتيا

په صنعت کې ټول هغه فعاليتونه شامل دي کوم چې د توکو او خدماتو په توليد او د کانونو د راسپړلو په برخه کې ترسره کېږي. يعنې د خامو موادو د بڼې بدلون ته صنعت ويل کېږي. د مثال په ډول که چېرې لرګی د خامو موادو په توګه فرض کړو؛ خو کله چې ترکاڼ له هغه څخه مېز يا څوکۍ جوړ کړي؛ نو دې پروسې ته صنعت ويل کېږي. کېدای شي خام مواد بشپړ توکي وي او وروسته له يوه پړاو څخه په نيم کاره او کارتمامه توکو بدل شي، لکه د پسه څرمن په لومړي پړاو کې په بشپړ ډول خام توکی دی چې وروسته بيا څرمن په نيم کاره او په پای کې د څپلې او بوټ په بڼه په کارتمامه يا صنعتي توکي بدلېږي. صنعت په لاندې درېيو ډولونو لومړني صنعت، ټول هغه فعاليتونه پکې شامل دي چې د خامو موادو په پيدا کېدو پورې اړه ولري. لکه د معدنونو استخراج، کرنه او مالداري، کب نيونه او داسې نور. منځنی صنعت، په دې صنعت کې ټول هغه فعاليتونه شامل دي چې خام مواد په نيم کاره محصول يا په کارتمامه محصول بدلوي. لکه د پلاستيک جوړولو صنعت، د موټر جوړولو صنعت، د درمل جوړولو صنعت او داسې نور او درېيم ډول يې د خدماتو سکټور يا درېيمي صنعت دی. په دغه صنعت کې هغه تصدۍ راځي چې پورته دوه ډوله صنعت ته خدمات وړاندې کوي لکه بانکوالي، مخابرات، ښوونه او روزنه، روغتيا او دې ته ورته نور
که موږ تاسو غواړو چې افغانستان پرمختګ وکړي، نو تر ټولو لومړی کار چې ترسره کړو هغه دادی چې د صنعت ټولو پورتنيو برخو ته پوره پاملرنه وکړو، څو دغه هېواد صنعتي شي، صنعت يې وده وکړي او په دې ډول د نورو هېوادونو له احتياج څخه خلاصی ومومي. همدا اوس چې په نړۍ کې موږ کوم پرمختللي هېوادونه وينو، د دوی د پرمختګ راز په دې کې نغښتی چې دوی خپل صنعت ته پاملرنه کړې او هغه ته يې وده ورکړې ده. خو دا هغه وخت شوني او امکان لري چې لومړی حکومت خپله په دې برخه




کـــې ګام پورته کړي او ترڅنګ یې خصوصي ســـکتور په پښـــو ودروي. افغانستان چې د طبیعي زېرمو څخه مالامال هېواد دی، که یـــې کانونه د کورنیـــو شرکتونو له لوري اســـتخراج او بیا یې استخراج شوي کاني توکي، د هېواد په دننه کې په پخو توکو بدل یانې همدلته په افغاني فابریکو کې صنعتي پروسه بشپړه کړي، نو بیا به افغانســـتان هم صنعتي او هم به د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر د پرمختګ په لور ګړندي ګامونه پورته کړي.

## په اقتصاد کې د صنعت اهمیت او د اسلامي امارت هڅې

صنعت د هېوادونو په اقتصادي وده کې ســـتره ونډه لري، څومره چې یو هېواد پیاوړی او صنعت یې وده وکړي، په هماغه کچه یې اقتصـــادي پرمختګ ګړندی کېـــږي. د نړۍ د نـــورو پرمختللو هېوادونو په شان د افغانســـتان په اقتصادي وده کې هم صنعت مهمه ونډه درلودلی شي. ځکه افغانستان د بشري ځواک، طبیعي زېرمـــو او سرچینو، کانونو او ځنګلونو له اړخه یو غني هېواد دی او له دې هـــر څه نه د صنعت په برخه کې پـــوره ګټه پورته کېدای شي؛ خو پر افغانســـتان لومړی د انګریزانو، بیا د روسانو په پای کـــې د امریکا او ناټو یرغلونو د نورو برخو په شـــان زموږ د هېواد لرغونـــي صنعت، لاسي صنعت او ماشـــیني صنعت چې څه نا څه موجود و یا خو په بشپړ ډول له منځه یووړ او یا یې هم سخت زیان ورته واړاوه.

افغانســـتان په وچه کـــې را ګېر هېواد دی، چـــې کمې اقتصادي سرچینې لري. د دې هېواد د ډېری خلکو اقتصاد په کرنه او مالدارۍ ولاړ دی؛ خـــو له بده مرغه د بېلابېلو لاملونو له وجې د دې هېواد د کرنې سکتور هم هغسې وده نه ده کړې، چې لږ تر لږه د خپلو خلکو اړتیاوې پوره کړي. کانونه د افغانستان د اقتصاد بل فکتور دی، چې د دې هېـــواد د اقتصادي ودې په برخه کې ډېره تمه ورته کېږي. د کانونو په اړه د نړیوالو ادارو څېړنې ښیي، چې دا هېواد د ګازو، نفتو، ډېرو سکرو، طلا، نقرې، لاجوردو، مسو، اوسپنې او نورو طبیعي موادو کانونه لري. خو له دې پرېمانه طبیعي سرچینو او کانونو څخه په تېرو څو لســـیزو کې د جګړو، یرغلونو، اداري فساد او کمزورې حکومتولۍ له کبله د افغانســـتان د اقتصادي ودې لپاره ګټه نه ده پورته شوې. که چېرې دا طبیعي زېرمې په قانوني ډول استخراج او زموږ صنعت هغې کچې ته ورســـیږي چې له دې کاني موادو څخه صنعتي تولیدات وکړي، نو له شک پرته چې د افغانستان اقتصاد به وده وکړي. د صنعت په پرمختګ سره په هېواد کې کاري فرصتونه رامنځته کېږي، د هېوادوالـــو د اړتیا وړ د لومړنیو توکو د تولید کچه لوړېږي، دغه راز صنعت د ســـوداګرۍ پـــه پراختیا او د صادراتو په زیاتوالي کې مهم رول لـــري. د صادراتو په زیاتوالي سره د وارداتو کچه ټیټیږي او هېواد له وارداتي حالته څخه راوزي او په صادراتي هغه بدلیږي. دډې ترڅنګ افغانستان یو کرنیز هېواد دی او د کرنې صنعتي کول د هېـــواد د اقتصادي پرمختیا په برخـــه کې اړینه او ضروري موضوع ګڼل کېږي. کله چې د افغانستان صنعت پرمختګ وکړي، نو بیا به موږ ددې جوګه یوو چې خپله دودیزه کرنه په میکانیزه کرنـــه بدله کړو. د کرنـــې په میکانیزه کېدو سره بـــه زموږ د کرنیزو محصولاتو تولید یو په دوه او د کلني عاید کچه به لوړه شي.

هر هېواد د خپل ملي اقتصاد د پیاوړتیا، ودې، پراختیا او پرمختیا لپاره له بېلابېلو میکانیزمونو کار اخلي. ځینې هېوادونه د خپلو طبیعي زېرمو په واسطه خپل اقتصاد پیاوړی کوي، ځینې د صنعت او ځینې یې د کرنې د ســـکتور د ودې له لارې. په افغانستان کې د صنعت د ودې لپاره د وړ ظرفیتونو او خامو موادو نشتوالي، د تولیدي فابریکو فعالیت صفر کړی دی. همدارنګه د فني کســـانو نشـــتوالی هم د دې لامل ګرځېدلی، چې کانې زېرمې مو په بشـــپړ ډول ترخاورو لاندې پاتې شي. د تاریخ په اوږدو کې چې ځینې حکومتونو تر یوه بریده د صنعت په برخه کې کار کړی و، خو د اشـــغال او جګړو له امله له خاورو سره خاورې شوی دی. د دې جګړو له کبله نه کومه تولیدي فابریکه پاتې شوې او نه هم هغه لاسي صنایع چې د افغانستان اقتصاد ته یې تر یوه بریده اوږه ورکوله.

د افغانستان اسلامي امارت په راتګ سره، لکه څنګه چې په ټول هېواد کې پوره امنیت تأمین شو، داسې د افغانستان د اقتصادي وضعیت د پیاوړتیا لپاره هم هیلې زیاتې شوې. اسلامي امارت له شـــته امکاناتو څخه په اســـتفادې هڅه کړې، چې د افغانستان اقتصـــاد په پښـــو ودروي. پـــه دې برخه کې یې یو لړ ســـترې اقتصادي پروژې پیـــل کړې، لکه: د قوش تېپې کانال، د کانونو قانوني استخراج، د هېواد په شمال کې د ډېرو سکرو کانونه او د تېلـــو په برخه کې د قشـــقري بلاک یادونه اړینـــه ده. دغه راز د برېښنا د تولید په برخه کې چې صنعتي چارې تړلې ور پورې تړلې دي، د کجکي بند د دوهم فاز رغول او ګټې اخیستنې ته سپارل؛



هفته نامه آبادی
آبادي اوونیزه

د اقتصـــادي او تـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ABAADI ONLINE WEEKLY



د صنعت او تولید په برخه کې د پیروزي ښارګوټي د صنعتي پارک جوړول د هغو دولتي صنعتي شرکتونو بېرته فعالول چې له فعالیت څخه پاتې و، دغه راز له خصوصي سکټور څخه د ملاتړ صندوق رامنځته کول او نور هغه مــوارد دي چې یادونه یې ضرور ده. له خصوصي ســـکټور څخه د ملاتړ صندوق په پرانیستغونډه کې د ریاســـت الوزراء اقتصادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې ددې صندوق په پرانیســـتې سره به د خصوصي ســـکټور د ملاتړ ترڅنګ د سوداګرۍ، ترانزیټ، صنعت او کورنیو تولیداتـــو د ودې او پرمختګ بهیر ګړندی او دغه راز به هېوادوالو تـــه کاري فرصتونـــه برابر شي. محترم ملا صاحـــب زیاته کړه، اســـلامي امارت ته له خصوصي ســـکټور څخه ملاتړ، کورنیو او بهرنیـــو پانګوالو ته د پانګونې زمینـــې برابرول او د کورني صنعت پرمختګ لومړیتوب لري او په همدې موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله له لوري مالیاتي جریمې او پر اصنافو او کســـبګرو باندې ثابتي مالیـــې معاف او تخفیف ورکړل شـــوی. همدا راز د شرکتونو د تضمیناتو، تامیناتو او طلباتو ورکړه هم پیل شـــوې ده. له دې څخه دا په ډاګه کیږي چې اســـلامي امارت د صنعت ودې او پرمختګ ته په بشپړ ډول ژمن دی.

## پایله

صنعت هغه ســـکټور دی چې د یوه هېـــواد په اقتصادي وده کې ځانګړی رول لري. هر څومره چې صنعت پراختیا مومي په هماغه اندازه د هېواد اقتصادي پرمختګ چټک کیږي. افغانستان بشري ځـــواک، پرېمانه طبیعي زېرمې، کانونه او ځنګلونه لري او له دې هر څه نه د صنعـــت په برخه کې پوره ګټه پورته کېدای شي؛ خو په افغانستان کې اشغال زموږ هغه صنعت چې پخوا موجود و، هغه یې هم له منځه یووړ. خو د اســـلامي امارت په راتګ سره د نورو ســـکټورونو په خوا کې د صنعت سکټور ته هم پام ور واوښت. په دې برخـــه کې کوټلي ګامونه پورته شـــول چې بېلګه یې د پیروزي ښارګوټي جوړول، صنعتي فابریکو ته د برېښنا برابرول، د صنعتکارانو بشـــپړ ملاتړ، د صنعتي تولیداتو له پاره په کور دننه او له هېواده بهر د نندارتونونو جوړول، صنعت کارانو او کسبګرو ته د مالیاتو معافېدل، اصنافو او کسبګرو ته د ثابتو مالیو معافېدل او په مالیو کې تخفیف او داسې نور دي. له دې څخه دا په ډاګه شوه چې اسلامي امارت د صنعت پرمختګ ته ژمن دی. که د صنعت له پاره په همدې ډول کار وشي، دا به لرې نه وي چې افغانستان به په نېږدې راتلونکي کې یو صنعتي هېواد وي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۷۰,۸۰؋ | ۷۰,۸۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲٤٤؋ | ۲٤٤؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۱,۲۸؋ | ۱,۲۸؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷٦,٤۱؋ | ۷٦,٤۷؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۸۰؋ | ۰,۸۰؋ |
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸٤۷؋ | ۸٤۸؋ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ۹۰,٤٥؋ | ۹۰,٥۱؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸,۸۷؋ | ۱۸,۸۹؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۲۸؋ | ۱۹,۲۹؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۷٦؋ | ۹,۷۷؋ |

